# د بې اسناده افغان کډوالو راستنېدنه

## اونیز راپور

## ۲۸ می - ۰۳ جون ۲۰۲۱

IOM UN MIGRATION

### اړین ټکي-۲۰۲۱

د روان کال ۲۰۲۱ جنورۍ میاشتې د شروع څخه تر دا مهاله له ایران او پاکستان څخه ټولیزه راستنېدنه- ۵۱۴،۴۲۳ وګړي.
په ۲۰۲۱ کې له ایران څخه ټوله راستنېدنه ۵۰۸،۸۴۷ وګړي.
په ۲۰۲۱ کې له پاکستان څخه ټوله راستنېدنه ۵،۵۷۶ وګړي.

د تیرې اوونۍ په جریان کې له ایران څخه ۳۵،۳۶۶ بې اسناده افغان کډوال راستانه شوی دي چې ددې جملې څخه ۳٪ (۹۵۰ انفرادی وګړی) چې (۶۹۰ نارینه او ۲۶۰ ښځینه) کیږي مرسته شوی ده.

د تیرې اوونۍ په جریان کې له پاکستان څخه ۳۵۳ بې اسناده افغان کډوال راستانه شوی دي چې ددې جملې څخه ۹۵٪ (۳۳۶ انفرادی وګړی) چې (۱۷۴ نارینه او ۱۶۲ ښځینه) سره مرسته شوی ده.

**د بې اسناده راستنیدونکو کډوالو سره د کډوالۍ نړیوال سازمان په وخت مرستې**

**<u>د کډوالو روغتیا:</u>**

۲۰۲۱ کال د شروع څخه تر اوسه پورې IOM د کډوالو روغتیا پروګرام په نیمروز، هرات، کندهار او ننګرهار ولایتونو کې ۱۷۶،۶۷۳ کورنیو ته د لومړنیو لازمي روغتیا پاملرنې خدماتو عمومي ناروغیو ، مور ، ماشوم او نوې زیږون روغتیایی پاملرنې ، د زیږون روغتیا ، کورنۍ د پلان کولو د کویت ۱۹ خدمات وړاندی کړی دی. او دا برنامه د اروپایي اتحادیې (DG ECHO) او د CERF لخوا بې مالی ملاتړ کیږي .

د تیرې اوونۍ په جریان کې په مجموعي توګه ۳،۷۴۷ مریضانو د IOM اوو ګرځنده روغتیایی ټیمونو لخوا خدمات وړاندی کړی دي چې ۲،۳۲۵ بستر ناروغانو ته مشورې، ۳،۷۴۷ ښځو او نارینو ته د ټولنې په کچه روغتیا تعلیم ذده کړې ناستې او ۲۳۲ ناروغانو ته رواني مشورتي ناستې ترسره شوې دی.

د کډوالو روغتیا پروګرام د نړیوال وجهي صندوق او د څو هیوادونو د نړی رنځ او د UNDP سره په ملګرتیا فنډ لاندې د نړی رنځ په ټولیز ډول ۱۰،۵۱۸ بې اسناده افغان کډوال هرات، نیمروز، کندهار او ننګرهار ترانزیت مرکزونو کې دتشخیص لپاره معاینه شوی چې ددې جملې څخه ۲۴۰ ناروغان چې په نړی رنځ اخته (کومان کیږي) قضیې پیژندل شوی دی.

**<u>خوندیتوب:</u>** د IOM د خوندیتوب برنامې په ۲۰۲۱ جریان کې ۱،۶۸۳ غیر راجستر کورنیو چې( ۲،۱۸۵ ښځینه، ۲،۰۷۸ نارینه، ۳،۳۷۷ انجونې او ۳،۸۷۶ هلکان) سره چې خانګړې قضیې هم په کې شاملې دی مرستې تر سره کړی چې په وخت سره معلوماتو چمتو کول، خدماتو ته په وقار او خوندي ډول لاسرسي اسانولو، او د پیسو په شمول د مرستې چمتو کول ترڅو ددې لارې د خوندیتوب پیژندل شویو خطراتو کمولو لپاره او منفي تاکتیک میکانیزمونو څخه مخنیوی کول کله چې د راجع کولو خلا موجوده وه. د سکرینینګ کارمندانو سره چې د هرات او نیمروز په سرحدې نقطو او همدارنګه د بیرته راستنیدنې په ۱۱ ولایتونو کې کار کونکې کار کوی. د خوندیتوب په برخه کې ۸۷ نیویو قضیو (۱۱۲ ښځینه، ۱۱۶ نارینه، ۲۲۱ انجونې او ۲۳۳ هلکان) ارزونه په نیمروز، غور، بلخ، بدخشان، فاریاب، هرات، تخار، ننګرهار، سرپل، کندهار او کابل ولایتونو کې بشپړه شوی ده، چې په دې ارزونه کې پلار، ۲۱ شدیدی طبی قضیې، ۱۶ سپین ږیری په خطر کی، ۱۵ ښځی په خطر کی، ۹ د معلولیت قضی، ۶ جدا شوی ماشومان او ۳۲ ماشومان په خطر کې قضیو سره مرستې ترسره شوی دی. او ۴۲۶ د خانګړو ضروتونو لرونکو او کورنۍ په میلک او اسلام قلعه کې د کډوالو چار و ریاست سره په همغږی سره سکرین کړی دی. ۲۲ غیر راجستر راستانه شوی انفرادی اوکورنۍ چې (۲۵ ښځینه، ۳۲ نارینه، ۲۴ انجونې او ۳۱ هلکان) د رارسیدو څخه وروسته مرستې ترلاسه کړې چې د بیلګې په توګه (ګرځنده تلیفونونه ، د کورنۍ تعقیب، او د لاری کرایه)، او همدارنګه ۸۷ قضیو لپاره د قضیو مدیریت ارزونه ترسره شوې ده.




په ۲۰۲۱ کال کی د راستینیدونکو کډوالو شمیر د نیم ملیون څخه زیات دی، په جنګ کې زیاتوالی ، دوامداره کار موندونې او خدماتو په شمول د روغتیای پاملرنې ته نه لاسرسي په سیمه او منطقه کې د کډوالی اصلی فکتورنو څخه شمیرل کیږی. @ ای او ام ، می ۲۰۲۱.

### د ایران څخه راستنېدنه:

د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د سرحداتو نظارتي ټیم په وینا، په ټولیزه توګه ۳۵،۳۶۶ بې اسناده افغان کډوال په خپله خوښه د نیمروز (میلک) او هرات (اسلام قلعه) له لارې د ۲۰۲۱ میلادی کال د ۲۸ می څخه د جون تر ۰۳ نېټې پورې بیرته هېواد ته راستانه شوي او یا شړل شوي دي، چې ۱۷،۱۲۴ افراد په خپله خوښه راستانه شوی او۱۸،۲۴۲ شړل شوی دي. د ۲۰۲۱ لمریز کال دجنوری د لومړۍ نېټې څخه تر اوسه پورې په عمومي توګه (۵۰۸،۸۴۷) بې اسناده افغان کډوال د ایران څخه راستانه شوی دي چې په ۲۰۲۰ لمریز کال کې د ورته مودې په پرتله ۴۲ سلنه زیاتوالې راغلي دي. د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مجموعي توګه د ایران څخه ۹۵۰ بې اسناده افغان کډوال چې (۳٪) سلنه کیږي د ایران څخه د رارسیدو وروسته بشري مرستې دهرات او نیمروز عبوری مرکزونو کې ترسره کړې دی. د بودیجې د نشتون له امله د مرستې کچه محدوده شوی ده او د راستنیدونکې زیان منني سره هیڅ تړاو نلري.

د روان میلادی کال د اپریل په ۲۹ ، د ایران حکومت د کوید-۱۹ د لیږد مخنیوي لپاره له افغانستان سره ګډه پوله وتړله. افغاني اتباع په شمول د مهاجرینو بیا هم پدې موده کې کولای شي چې کور ته د راتلو اجازه ولري.

د پولې له لارې راستېدنې پروګرام په ۲۰۲۱ لمریز کال کې **۲۹،۷** میلونونه ډالرو ته اړتیا لری چې په تخمیني توګه **۶۵۴،۰۰۰** افغان راستنیدونکو کډوالو ته پرې خدمات وړاندې کړی. هغه شمیره چې احتمال شتون لري د موجوده راستنېدنې ته په کتو سره زیات شی، ای او ام د خپلې لارمو مرستو څخه یوازې ۵٪ سلنه ترلاسه کړې ده. د اضافي ملاتړ پرته د پولې په کچه راستنېدنې مرکزونو کې بشري فعالیتونه د جولای په میاشت کې د ځنډ سره مخ شي، سره له دی چې مرستې په پرتلیزو ډول سره د بشری اړتیاوې هم اونی په اونی محدودیت کیږی.

### د کوید-۱۹ معلومات:

د کډوالۍ نړیوال سازمان د عامې روغتیا وزارت او د روغتیا نړیوال سازمان سره د کویت-۱۹ ویروس په خپریدو غبرګون کې فعاله توګه مرسته کوي. **د مارچ په ۲۵ نېټه، IOM خپل ۲۰۲۱ نړیوال کوید-۱۹ اپیل پیل کړه - ستراتیژیک غبرګون او ژغورنې پلان، ای او ام اداره په افغانستان په ۲۰۲۱ لمریز کال کی ۱۷ ملیون دالرو په لټه کی دی ترڅو خپلو ځوابو ته دوام ورکړي.** زیات معلوماتو [دلته](#) شتون لري. په فعالیتونو کې د لومړی کربښې روغتیایي کارمندانو لپاره روزنه ، د اړتیا په سیمو کې د کارمندانو ګمارل په شمول د روغتیایي مرکزونو او هلته یې بیا ځای پرځای کول، د پولې خارنې لپاره اضافي کارمندان په دنده ګمارل، د ځان محافظتي او نورو تجهیزاتو، د امبولانس په بنسټ ریفرل خدمات او د ټولنې په کچه د عامه پوهاوي فعالیتونه په شمول د بې ځایه کیدنې تعقیب میټریکس کروپي بحثونو له لارې په ۱۲،۶۰۰ نقطو په ۳۴ ولایتونو کې تر سره کړی دی.


مور سره اړیکه ونیسی

I OM Kabul : nbishop@iom.int ✉

**د پاکستان څخه راستنېدنه:** د کډوالو او راستنېدونکو چارو رياست د سرحداتو نظارتي ټيم په وينا، په ټوليزه توګه ۵،۵۷۶ بې اسناده افغانان په خپله خوښه د پاکستان څخه د ۲۰۲۱ جنوری د ۱ نېټې څخه بیرته خپل هیوادا ته راستانه شوي دي. د تیرې په اوونی کې په مجموعي توګه ۳۵۳ بې اسناده افغان ګډوال چې (۱۱۶ راستانه شويو كورنی غړي) د تورخم او (۲۲۱ راستانه شويو کورنی غړی او ۱۶ شړل شوی) د سپين بولدک پولې له لارې له پاکستان څخه بیرته خپل هیواد ته راستانه شوي دی.

### په ۲۰۲۱ کال کی د بی اسناده راستنېدونکو کډوالو شمير

| نېټه | ایران | | | | | پاکستان | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هرات | | نیمروز | | د ایران مجموعه | تورخم | | قندهار | | د پاکستان مجموعه | مجموعي مرسته شوی |
| | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | |
| ۰۱ جنوری- ۳۰ اپریل | 116,363 | 86,643 | 43,818 | 117,118 | 363,942 | 449 | 225 | 3625 | 165 | 4,464 | 368,406 |
| ۰۱ -۱۳ می | 19,688 | 13,492 | 5,264 | 16,577 | 55,021 | 98 | 15 | 178 | 57 | 348 | 55,369 |
| ۱۴ -۲۰ می | 9,745 | 6,563 | 1,317 | 3,081 | 20,706 | 7 | 0 | 23 | 0 | 30 | 20,736 |
| ۲۱ -۲۷ می | 13,291 | 9,220 | 2,943 | 8,358 | 33,812 | 73 | 13 | 295 | 0 | 381 | 34,193 |
| ۲۸ می-۰۳ جون | 14,326 | 9,820 | 2,798 | 8,422 | 35,366 | 116 | 0 | 221 | 16 | 353 | 35,719 |
| **مجموعه** | **173,413** | **125,738** | **56,140** | **153,556** | **508,847** | **743** | **253** | **4,342** | **238** | **5,576** | **514,423** |

### په ۲۰۲۱ کال کی د مرسته شویو راستنېدونکو کډوالو شمير

| نېټه | ایران | | | | | پاکستان | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هرات | | نیمروز | | د ایران مجموعه | تورخم | | قندهار | | د پاکستان مجموعه | مجموعي مرسته شوی |
| | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | |
| ۰۱ جنوری- ۳۰ اپریل | 1,157 | 6,702 | 701 | 9,359 | 17,919 | 449 | 193 | 3488 | 157 | 4,287 | 22,206 |
| ۰۱ -۱۳ می | 94 | 877 | 25 | 451 | 1,447 | 98 | 15 | 178 | 43 | 334 | 1,781 |
| ۱۴ -۲۰ می | 18 | 470 | 4 | 337 | 829 | 7 | 0 | 23 | 0 | 30 | 859 |
| ۲۱ -۲۷ می | 20 | 405 | 43 | 479 | 947 | 73 | 13 | 295 | 0 | 381 | 1,328 |
| ۲۸ می-۰۳ جون | 23 | 354 | 17 | 556 | 950 | 113 | 0 | 214 | 9 | 336 | 1,286 |
| **مجموعه** | **1,312** | **8,808** | **790** | **11,182** | **22,092** | **740** | **221** | **4,198** | **209** | **5,368** | **27,460** |

### د ایران څخه د غیر راجستر راستنیدونکو راستنیدنه (۲۰۱۹- ۲۰۲۱)




په افغانستان کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له ټولو لاندینو بسپنه ورکونکوو ، تمویلونکو نه مننه او قدرداني څرګندوی. د نوموړو تمویلونکو ، مالي ملاتړو په مرسته د کډوالۍ نړیوال سازمان وتوانید چې په ۲۰۲۱ میلاد کال کې ۲۷،۴۶۰ بې اسناده افغان کډوالو سره مرسته ترسره کړه.

The Global Fund
To Fight AIDS, Tuberculosis and Malaria
United Nations CERF Central Emergency Response Fund
in coordination with

**ناروی، جاپان، سویس، ایکو (د اروپایي اتحادیې بشري مرستو څانګه) د بیرنیو کمکونو وجهي صندوق او دنړی رنځ، ایډز او ملاریا نړیوال وجهي صندوق (CERF).**